الحاج فضل الله رشتین ۲۹ آگست، ۲۰۱۰

# د قدر شپه

إنا انزلنه في ليلة القدر (۱) و ما ادراك ما ليلة القدر (۲) ليلة القدر خير من الف شهر (۳) تنزل الملائكة و الروح فيها بإذن ربهم من كل امر (٤) سلام هى حتى مطلع الفجر (٥)
يقينا چي مونږ دا د القدر په شپه نازل کړی دی . ته څه پوهيږی چي د قدر شپه څه ده ؟ د قدر شپه له زرو مياشتو نه بهتره ده . په ( دی کښي دهر کار ) د انجام ورکولو د پاره د خپل رب په حکم سره فرشتې او روح ( جبرائيل ) نازليږي . دا شپه سراسر د سلامتئ ده او د فجر تر طلوع پورې ( ده )
د قدر کلمه عربي کلمه ده او د منزلت په معنی ده . مونږ وايو چي فلاني سړی د قدر وړ سړی دی يعنی قدرمن دی . همداشان وايو چي مونږ د فلاني سړي کورته لاړ و ، هغه زمونږ ډير قدر وکړ ."
د قدر دکلمي بله معنی اندازه کول او فيصله کول هم ده ، په دې شپه د ټول کال د پاره فيصلی کيږي نو په هم دې سبب دی ته ليلة الحکم هم وايي.
ددې کلمي بله معنی تنګي هم ده ، په دې مبارکه شپه دومر ډيرې فرشتې د ځمکې سر ته راښکته کيږي چي ځمکه تنګيږي .
د قدر شپه د عبادتونو شپه ده ، په دې مبارکه شپه چي څومره عبادتونه کيږي هغه د خدای پاك په وړاندې ډير قدر او ارزښت لري او خدای پاك هر مومن بنده ته چي په دې مبارکه شپه عبادت کوي ، ډير اجر او ثواب ورپه برخه کوي.
د قدر شپه د روژې د مياشتې د وروستيو لسو طاقو ورځو په کومه شپه کښي راځي . ددې شپې په مبهم پاتې کيدو کي هم الهي حکمت پروت دی ، او دا ددې په خاطر دی چي مسلمانان د روژې د وروستيو لسو ورځو په طاقو شپو کښي ښه دزړه له اخلاصه عبادت وکړي .

<u>يقينا چي ما دا د قدر په شپه نازل کړی ده</u> :
د قران پاك نزول د روژې په مبارکه مياشت کښي له همدې شپې نه پيل شوی دی . دا قرآن پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل او د ۲۳ کالو په موده کښي پوره شوی يعنی تکميل شوی دی . د قرآن پاك آيت دی چي :
شهر رمضان الذي انزل فيه القرآن .
د رمضان مياشت هغه ده چي قرآن پکښي نازل شوی دی

<u>تاسي څه پوهيږئ چي د قدر شپه څه ده</u> ؟
ددی استفهام څخه ددې شپې عظمت او اهميت څرګنديږي ، ذهن په کامل ډول ددې پوښتني ژورتيا ته رسيدلای نه شي . دا يواځې پاك الله دی چي په دی پوهيږي .

<u>د قدر شپه له زرو شپو څخه بهتره ده</u> .

يعني ددې يوې شپې عبادت د زرو مياشتو له عبادت څخه بهتر دی . زر مياشتي له ۸۳ کالو او څلورو مياشتو سره برابرې دي . دا د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم په امت باندې د الله تعالی څومره لوی احسان دی چي دهغه د امت د هر بنده د پاره يي دومره آسانتيا برابره کړې ده. د بنده عمر ډير لنډ او مختصر دی . او سط عمر ته چي سړی نظر وکړي نود سړي اوسط عمر له ۸۰ کالو څخه زيات نه دی . خدای پاك مومن بنده ته د قدر د يوې شپې د عبادت په بدل کښي د ۸۳ کالو او ٤ مياشتو د عبادت اجر ورکوي . دا د خدای پاك لوی احسان دی او دا احسان هيڅ څوك ادا کولای نه شي .
<u>روح</u> : له روح څخه مراد حضرت جبرائيل عليه سلام دی ، يعني فرشتې له جبرائيل عليه سلام سره يوځای ، په دغه شپه ځمکي ته راښکته کيږي چي هغه چارې سرته ورسوي او انجام يي کړي کومې چي خدای پاك يي په دغه کال فيصله کوي.

<u>دا شپه سر ا سر د سلامتئ شپه ده.</u>


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

يعني دا شپه د شر او فساد شپه نه ده . هر مومن په دغه شپه د شيطان له شر څخه خلاص او محفوظ دی . په دغه شپه فرشتې، اهل ايمان يعني ايمان دارو ته سلام کوي ، فرشتې هم په خپلو کښې په يوبل باندې سلام وايي .
نبي صلی الله عليه وسلم د قدر د شپې دپاره دا دعا ښودلې ده :
(( الهم انك عفو تحب العفو فاعف عني )) ( سنن ترمذي )
خدايه ته عفو يې ، عفو دې خوښيږي نو ماته عفو وکړه.
نو ځکه هر مومن بنده ته ښائي چې د قدر په شپه دا دعا ووايي.
د قدر شپه ډيره درنه ، ډيره بختوره ، ډير پر برکته ، ډيره ستره ، ډيره نوراني ، ډيره ښکلې او له فيض نه ډکه شپه ده . دا شپه څرنګه چې وويل شول د روژې د ورستيو لسو ورځو په طاقو شپو کښې راځي چې دا د روژې د ۲۱ ، ۲۳ ، ۲۵ او ۲۷ شپې دي نو هر مومن بنده ته ښايي چې په دغو شپو ښه سم په اخلاص ، صداقت ، ايمانداری او په پاك نيت عبادت وکړي ، لمونځونه وکړي ، د قرآن پاك قرائت وکړي ، دعا وکړي ، تمنا وکړي ، له خدای پاك څخه د عفو او بخښې سوال وکړي ، توبې وکړي ، د نيکې لارې هدايت وغواړي ، له بديو څخه د خلاصون دعا وکړي . دا شپه په کال کښې يو ځل راځي .
هغه مسلمان بنده خوش نصيبه دی چې په دغه شپه نور ټول دنيوي کارونه پريږدي ، هر څه هير وي او صرف د خدای د نوم په اخستلو د خدای پاك درګاه ته لاسونه په دعا پورته کوي او په ډير عذر او زارئ ، په ډير ه تواضع او مسکينئ ، په ډير احترام او عاجزئ هغه څه غواړي چې دده دين او دنيا ورباندې ښائسته کيږي او ورسره د ده د نيکمرغئ او خوشحالئ سبب کيږي.
دعا به وکړو چې :
ای پاکه ربه تا راته ددعا حکم راکړی دی او زمونږ ددعا ګانو د قبلولو وعده دې راکړې . تا فرمايلي دي چې له مانه و غواړئ هر څه چې غواړئ ، زه به يې در کړم .
ای لويه خدايه : ددې مبارکې شپې په برکت زمونږ روژې ، لمونځونه ، عبادتونه او طاعتونه قبول کړه .
ای لويه خدايه ! ته مونږ ته د ښې لارې هدايت وکړه . زمنږ ظاهر او باطن اصلاح کړه . مونږ له ګمراهيو څخه وساته .
مونږ ستا د نعمتونو شکر ګذار يو . مونږ سره مرسته وکړه او دا توان راکړه چې ستا د نعمتونو شکر په ځای کړوز
ای خدايه !
ته د آسمانو او ځمکې خالق يې . په دنيا او آخرت کښې مو مالك يې .
أی لويه خدايه ! ته په مونږ باندې له زمونږ د توان او طاقت څخه زياد بار نه اچوې . که مونږ کوه سهوه ، غلطي او خطا کوو نو ته راته معافي وکړه .
لويه خدايه ! ته مو ته مو له هر ډول نفاق ، خپل منځي مخالفتونو ، بد اخلاقيو ، بد بينيو څخه په خپل امان کښې وساته . ای لويه خدايه ! تهخ مو ايمان د زړونو زينت وګرځوه ، له بدو اعمالو او سرکشيو نه مو وژغوره .
ای لويه خدايه ! مونږ په دغه مبارکه شپه کښې ستا د رحمتونو طلبکار يو .
ای پاکه ربه ددې مبارکې شپې په برکت خپل غضب او قهر د اسلام په دشمنانو نازل کړه .
خدايه ! ته زمونږ په درد او غم باندې پوهيږې ، ته زمونږ ددرد او رنځ آواز اورې .
له تا نه مرسته او کمك غواړو .
له تانه پرته مددګار نه لرو .
ای لويه خدايه : زمونږ زړونه اصلاح کړه . زمونږ په زړونوکې مينه محبت او همدردي پيدا کړه .
له خپل منځي جګړو څخه مو وساته . له تعصب ، بغض او عداوت څخه نجات راکړه .
ای خدايه ! د قدر په دې مبارکه شپه زمونږ ګناوې معاف کړه .
مونږ له خپل رحمت څخه مه محرومو‌ه .
ته رحيم او کريم يې . زمونږ په حال رحم او کرم وکړه .
ای لويه خدايه ! ددغې مبارکې شپې په برکت زمونږ د هيواد افغانستان ساتنه او حفاظت وکړه.
دا وطن په خپل امان کښې وساته . دا وطن د داخلي او خارجي دښمنانو له شر څخه محفوظ وساته .
ای خدايه ! هغه څوك چې زمونږ په هيواد کښې بد امني پيدا کوي ، ته هغوي د خپلو ناپاکو ارادو څخه منع کړه .
لويه خدايه ! هغو شريفو خلکو ته توان او توفيق ورکړه چې په زړونو کښې د خپل وطن سره مينه لري ، د خپل هيواد د بقا د پاره په زړونو کښې پاکه جذبه لري.
ای لويه خدايه :
هغه خلك چې بد فکرونه لري ، د هغوي فکر ونه بدل کړه .
ای لويه ربه ! ددې سپيڅلې شپې په برکت د افغانستان هر وکړي ته دا توفيق ورکړه او دا مينه ورته په زړه کښې واچوه چې له هر ډول ژبني ، نژادي ، قومي تعصب څخه لاس واخلي او ټول له يو بل سره په وروړئ او دوستئ کښې ژوند وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ای لویه خدایه ! د خائنانو لاسونه مات او دوي تباه کړه .
ای خدایه ! ټولو ته د حلالې روزۍ د پیداکولو توان ورکړه ، رشوت خورو او د حرامو لارو څخه د دولت پیداکونکوته د ښې لارې هدایت وکړه .
ای لویه خدایه ! تا په قرآن پاك کښې د حلالو او جائزو طریقو له لیارې د روزۍ د پیدا کولو اصول ښودلي دي
لویه خدایه تا په قرآن پاك کښې د حلالو او جائزو طریقو له لارې د روزۍ دپیدا کولو احکام صادر کړي دي.
خدایه ! ته لار ښوونکی او هدایت کوونکی یې .
خدایه ! ته ټول افغانان د اصولو پابند وګرځوه ، ته مونږ افغانانو ته توان راکړه چې د قرآن د احکامو پابندي وکړو.
خدایه ! ته مونږ افغانانو ته همت ، جرئت او استقامت راکړه چې قرآن د خپل ژوند د لارې مشال وګرځوو .
ای خدایه ! د قدر د پاکې شپې په برکت ټول هغه خلك کامیاب وګرځوه چې د اسلام ددین خدمت کوي .
ای خدایه! ته دوي ته ددې خدمت په بدل کې اجر او ثواب ورکړه .
پاکه خدایه ! له تانه غواړو چې د قدر شپه مبارکه زمونږ په نصیب کړې
او په دې مبارکه شپه زمونږ ټولې دعاګانې قبولې او منظورې کړې .
آمین


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ